په افغانستان او پاکستان کی د پرانیستی ټولنی د انستیتیوت د سیمه ییزی نګ لاری نوښت

# پردي په دروازه کي:

## د نړیوالو ځواکونو له خوا د شپی یرغلونه د افغانانو د زړونو اوباورونو د لاسه ورکول



**د پرانیستی ټولنی دانستیتیوت او د اړیکوداداری له خوا یوه څیړنه**

**د فبروری ۲۲، ۲۰۱۰**

**دپرانیستی ټولنی د انستیتیوت او د اړیکو دادارۍ له خوا**

# پردي په دروازه کي:

## د نړیوالو ځواکونو له خوا د شپې د یرغلونو له کبله د افغانانو د زړونو او باورونو د لاسه ورکول

### لنډیز

افغان ملکی وګړی په ز ډیاتیدونکی توګه په افغانستان کې د ج ګړې بار زغمی. که څه هم مخالفین د زیاتی برخی ضرر او زیان پره پرغاړه لری، خوعام وګړی نړیوال ځواکونو ته په غصه دي. نړیوال ځواکونو د پام وړ کوښښ کړی ترڅو د خپلو کړونو په ښه کولو سره دغه ټکی ته پام وکړی، خاصتاً د ملکی تلفاتو هغه برخه چې د هوایي بمباریو له کبله ده، را ټیټه کړې. سره له دی، هغه تګتیک چې د شپې له خوا د عملیا تو په ړوم یادیږی، لږ بدلون پکی راغلی.

هغه څیرنه چې د ډپرانیستی ټولنی او افغان غیر دولتی سازمان د اړیکو څانګی له خوا تر سره شوی، ښيي چې د شپې چاپې او یرغلونه د ناوړه چلند او معافیت سره یوځای و ه. د شپې یرغل پر افغانی ټولنه بدی اغیزی اچوی، او د هغو خلکو د پردی کیدو سبب ګرزی چې نړیوال ځواکونه ګواکي د هغوی ساتنه کوي . د شپې د چاپو په عملیاتو کې، افغان او نړیوال ځواکونه د شپې په تیاره کې د خلکو کورونو ته ننوځی او د کورونو لټون کوی، او ډیر وخت خلک نیسی او بندیان کوی یی.

د نړیوالی ټولنی تعهد افغانستان ته د ثبات راوستل دی، د خلکو د اعتماد او مرستی په ترلا سه کولو کې د شپې چاپې اوعملیا ت یوه جدی تیروتنه بلل کیږی. د نړیوالو پوځی ځواکونو پر وړاندی د افغانانو منفی احساس به تره غیبدل نشی چی د دوی ناوړه چلند د شپې چاپو عملیاتو کې همداسی دوام ولري.

د ۲۰۰۹ کال د سپتمبر څخه تر دسمبر پورې، پرانیستی ټولنی او د اړیکو څانګی په جنګ ځپلو ولایتونو پکتیا او خوست کی یوه څیرنه تر سره کړی، تر څو روښانه شی چه خلک د نړیوالو ځواکونو په اړه څه نظر لری او وپتیل شی چی نوی پوځی پالیسی څومره ګټوره ده. که څه هم دا څیرنه په دوو ولایتونو کی ترسره شوی، خو دی ته ورته حالت د افغانستان په نورو سیمو کې هم شته، چې د دی ستونزی پراخوالی او ثابت والی ښکاره کوي.

دا په داسی حال کې ده چې د شپې چاپې ښايې د دولت پلوه ځواکونو لپاره د برى احساس ورکړی، خو دا عمل د خلکو په منځ کې ډار خ پروی او د شپې له خوا عملیا ت په سیمو کی خلکو ته د بی تمیزه خطر او زیان کچه لوړي. مرګ او ژوبله، د شتمنیو زیان او روانی اغیزی هغه شیان دی چې د خلکو اعتماد له منځه وړی او د خلکو د ساتنی کچه راټیټوي.

همدا راز، د شپې چاپې هغه ستونزی چې د اړتیا وړ تضمینونو د نشتوالی له کبله رامنځ ته کیږی هم را ولاوړی. دغه یرغلونه اکثرآ د غلطو معلوماتو پراساس تر سره کیږی چې د بی ګناه خلکو د بندی کیدو لامل ګرزي . دغه خلک بیا بېبند کې ساتل کیږی پرته له دی نه چې د دوی بندیتوب ته وړ او پوره دلایل وړاندی شي . دا پخپله عدلی سیستم بی اعتماده کوی، د خلکو او دولت تر منځ واټن زیاتوی او د قانون د حاکمیت لپاره هلی ځلی تر پوښتنی لاندی راولی.

د افغانستان جاری منازعی ته په پام سره ښا يي بندی کول ضروری وی، خو باید هڅه وشی تر څو دا اطمینان حاصل شی چې د شپې چاپې او نور عملیات د نړیوالی ټولنی د ثبات راوستو هغه پراخه پالیسی، د قانون حاکمیت او د خلکو ساتنه تر پوښتنی لاندی رانه ولي.

**۱.د شپې له خوا د عملیاتوپه عوض د ی نوری لاری ولټول شی.**

دا بدلونو نه باید د خلکو اندیښنو ته په پام کی نیولو سره رامنځ ته شي اوبا ید د اصولو په مطابقت کی وی.

**۲- د شپې چاپې او عملیات باید د ځايي آیساف قوماندانانو سره همغږی شي.**

ځايي قوماندانا ن باید د دوی په اړوندو سیمو کې د شپې د چاپو په هکله خبر کړای شی او دوی ته بې صلاحیت، موخه تا کلو او د عملیاتو په ترسره کولو کې ونډه و رکړای شی. که د عملیاتو نه مخ کی دا کار شوي نه وی باید وروسته د عملیاتو څخه وشی.

**۳- د غلطو معلوماتو مخ نیوی.**

د معلوماتو د ارزولو وړ سیستم باید را منځ ته شی، چی په هغې کی پراخ او هر اړخیزی ځايي سرچینی او دولت ګډون ولری، دا کولای شی د بی ګناه خلکو بې وړاندی د یرغلونو مخ نیوی وکړی.

**۴- له دی نه باید اطمینان ترلاسه شی چی د افغانی ځواکونو ګډون د بدچلند لپاره لاره اواره نکړی.**

ډیر افغانان نړیوال ځواکونه بېدی ګرم ګڼی چی په ګډوعملیاتو کې د کورنیو ځواکونو د قانون ماتونکو کړنو څخه مخنیوی نکوی.

**۵- د بی نظم اوناقانونه ملیشو سره د کارکولو څخه ډه ډه وشي.**

ددغه راز ډلو نظارت او حساب ته راکشول د هغوی د سرغړونو له کبله ګران کار دي.

**۶- د اعتماد رامنځ ته کول د ځواب ورکولو له لاری.**

د شپې چاپو د شکایتونو د ځواب کولو لپاره یو جوړښت را منځ ته شی او په وړ توګه باید هغی ته ځواب وویل شی او ددی لپاره د پوځی سلسلو مراتب اړین کار دی.

دا څیړنه د پرانیستی ټولنی انستیتوت (OSI) له خوا هغه اقدام دی چی د ملکی تلفاتو، د جګړی اړوند زندانیانو او هغی ته اړونډه اندیښنی په افغانستان او پاکستان کی وارزوي . پرانیستی ټولنی انستیټیوټ یوه غیر حکومتی ټولنه ده چی په هغو هیوادونو کې چی حکومتونه یی د خپلو خلکو پر وړاندی د مسؤولیت احساس ولري، د دموکراسی په را منځ ته کولو کی کار کوی . په محلی کچه کی، پرانیستی ټولنی انستیټیوټ داسی نووښتونه رامنځ ته کوی چی په هغی کی د عدالت، تعلیم، صحت او مطبوعاتو ښه کولو ته پام وشي.

دا څیړنه بېګډه توګه د پرانسیتی ټولنی انس ټیټیوت او د اړیکو څانګی (TLO) له خوا ترسره شوی ده . د اړیکو څانګه یوه افغانی غیر حکومتی سازمان دی چی موخه یې د محلی دولتداری ښه کول ، د سنتی او مدرنو مدنی ټولنو سره د سیستماتیک او منظم څیړونو، دیالوګ او برنامو له طریقه په افغانستان کی د سولی او ټیکاو راوستل دي.

ددی څیړنی چاری د پرانیستی ټولنی انستیتیوت او د هغی بنیاد په افغنستان کې له خوا ترسره شوی دي.

**I: پیژندنه**

افغان ملکی وګړی د جګړی اغیزی زغمی. که څه هم نړیوالو ځواکونو د خلکو د ساتنی په اړوند تر یوه زیاتې اندازی هڅی کړی دی – خاصتاً هغه مرګ ژوبلی چی د هوا یې بمباریو له کبله را منځ ته کیږی راتیتی شوی دی– خو ډیری افغانان نړیوال ځواکونه مخالفینو ته ورته او هم کله له مخالفینو لازیات خطرناک ګڼی . ددی یو لامل دشپې له خوا د چا پواو د عملیاتو دوام دی.

د عامو خلکو سره مرکی دا ښکاره کوی چی د ۲۰۰۹ کال د جولای د میاشتی نوی تکتیکی بدلونونه د شپی د چاپو په عملیاتو کی د پام وړ کمښت نه دی را وستی. اوس په ه غو سیمو کې چی پخوا آرامه وی لکه د کندز ولایت،[1] دا ډول عملیات هلته هم ترسره کیږي. د خوست، پکتیا او نورو ځایونو څخه حکا یتونه د دی ښکارندوی دی چی د نړیوالو ځواکونو نه منفی برداشت او احساس به تر هغی بدلون ونه موی ترڅو چی دوی د شپی د چاپواچولو د ناوړه چلند څخه کار اخلی.

سربیره پردی چی دا د بهرنیو پرضد احساسات راپاروی، د دغو عملیاتو په بهیر کی کړنی او د خلکو نیونی او بندی کول ذهن ته هغه سوالونه راولی چی آ یا دا د نړیوالو قوانینو سره مطابقت لری،اوکه نه او آیا په افغانستان کی د قانون حاکمیت او ټیکاو راتلو ته زیان رسوی، او آیا هغو نور اقدامات چی د دولت او نورو نړیوالو کړیو له خوا د خلکو لپاره اخستل کیږی تر اغیزی لاندی راولی او که څرنګه؟.

په داسی حال کې چی پر کورنو باندی حملی د شپی لخوا ترجیح ورکول کیږی او دا کولای شی چی د دوی قواوو ته متوجه خطر راټیټ کړی، خو له بله پلوه د بی ګناه ماشومانو، ښځو او نارینو و ژوند ته د بی تمیزه او بی تشخیصه قوی متوجه کولو په معنی ده. په دی ترتیب سره د خلکو په منځ کې د دښمنی او عداوت حس ډیریږی او هغه لوی استراتیژیکې موخی چی د خلکو د ملاتړ خپل کول دی تر پوښتنی لاندی راځی. لکه چی د امریکا او ناټو نوی قوماندان په افغانستان کی جنرال مک کرستل وا یی: "موږ پخپله د ستراتیژیک شکست په لور د هغو جنګی تکتیکونو په کار ولو سره چی په هغی کی ملکی مرګ ژوبلی رامنځ ته کیږی ، روان یو. مخالفین نشی کولای چی په پوځی توګه موږ ته ماته راکړی، خو موږ خپله ځان ته ماته ورکوو."[2]

همدا راز داسی شواهد شته چی ښکاره کوی د دغو عملیاتو ډیر شمیر یې د غلطو معلوماتو پر بنسټ تر سره شوی، او خلک په تیروتنه نیول شوی او حتی هغه شمیر چی نیول کیدل یی د توجیه وړ هم وی د افغان ادارو د فساد له کبله بیرته خوشې شوی دي. دافکتورونه او اسباب کیدای شی په دی معنی وی چی د دغه عملیاتو ارزښت نامعلوم او نا څرګند وی.

په ټولیزه توګه، د شپی د چاپواچولو قیمت په هغه طریقه چی اوس ترسره کیږ ی د هغی د ګټو په پرتله ډیر او ګران دی.

**II: په ۲۰۰۹-کال کې د پالیسیو بدلون او د شورش پرضد د مبارزی تمرکز**

د ملکی تلفاتو کچه په ۲۰۰۸ کال کې ډیره زیاته شو ه، او د ۲۰۰۷ کال په پرتله ۴۰٪ زیاتوالی ښی. که څه هم مخالفین د زیاتو تلفاتو مسؤول ګڼل کیږی خو عامه غصه نړیوالو ځواکونو ته متوجه ده . د ملکی تلفاتو زیاتوالی د هوایي بمباریو له امله، ناوړه چلندونه د شپی په چاپواو عملیاتو کې او د زندانیانو پر موضوع باندی په ملی کچه

مظاهری وشوی.[3] ډېرو افغانانو پر نړیوالو ځواکونو غږ وکړ چی دوی باید ووځی. نړیوال ځواکونه دی ټکی ته متوجه شول چی د ملکی تلفاتو او د جګړی اړوند زندانیانو موضوع کیدای شی خلک د شورشیانو پلو ته واړوي.

د دغه بهیر د شاته راګرځولو په موخه جنرال مک کرستل نوی نوښځی ستراتیژی د شورشیانو سره جګړی ته د تقدم ورکولو ترنامه لاندی خپره کړه: د شورشیانو د مرګ او ژوبلی شمیره د دی نه کم ارزښت لری چی خلک د هغوی نه خپل ملاتړ واخلی. د نوی پوځی ستراتیژی اصلی ټکی په دی راڅرخی چی ملکی خلکو ته د زیان کچه را ټیټه شی، ځایی دود او رواج ته پوره درناوی وشی، او د نړیوالو ځواکونو او افغان دولت د ځواب ویلو احساس پیاوړی شي.[4] مک کرستال همدا راز د قانون د انفاذ او عدلی سیستم د پیاوړی کو لو او ښه والی د اړتیا په باب هم څرګندونی کړی دي، چی دا په لوړ فساد، د زندانیانو سره ناوړه چلند او په زیاته اندازه د مهارتونو او منابعو د کموالی د تورونو سره مخ دي.

د نوی ستراتیژی د پلی کولو په موخه مهم ګام نوی تکتیکی دستورات وو چی د ۲۰۰۹ کال د جولای په میاشت کی خپاره شول. دغو تکتیکی دستوراتو فعالیتونه را محدود کړل، هوایی بمباری چی د ملکی تلفاتو اصلی لامل وو لږ شول، او ځواکونه دی ته وهڅول شول چی کلتوری او دینی حساسیتونو ته زیاته پاملرنه وکړی . همدا راز د افغانی ځواکونو شمول د شپی په عملیاتو کی په پدی دستوراتو کی راغلی دی.

"د هر افغان کور ته د ننه کیدل باید همیشه د داخلي امنیتی ځواکونو له خوا او د محلی چارواکو په ملګرتیا ترسره شی ... "[5] دا تکتیکی دستورات په افغانستان کي د دواړو ماموریتونو لپاره د اجرا وړدی: آیساف چی د ناټو تر قوماندی لاندی ده او امریکایي پوځونه چی په افغانستان کی شتون لری.

سربیره پر دی، د امریکا دولت د زندانونو نوی نوښوسیجرونه جوړ کړی چی د هغی له مخی به زندانیانو ته په افغانستان کي لازیات حقونه ورکړل شي . امریکا همدا راز د بګرام زندان چی د زندانیانو سره د ناوړه چلند کیسی هم لری په عوض کی بل نوی زندان جوړ کړی دي.[6]

### III: د شپی د چاپو په هکله د ټولنی انګیرنه

د ۲۰۰۹ کال د سپتمبر څخه تر دسمبر پوری د پرانیستی ټولنی انستیتوت او غیر حکوم تی سازمان د اړیکو څانګی له خوا په جنوب شرقی ولایتونو پکتیا او خوست کي یوه څیړنه ، ددی په موخه چی د خلکو لید د نړیوالو ځواکونو پر وړاندی وارزوی او له بله پلوه وکتل شی چی د پوځی پالیسیو بدلون څومره ګټور دی وشوه. په دی څیرنه کی د ۲۰ګروپي ډلو سره چی یوه یې د ښځو وه بحثونه وشول، چی په بحثونو کی د ۱۵۰ نه زیاتو ګډون کوونکو، چی په هغوی کی ځایي مخور، مشران او د شورا غړی شامل وو پوښتنې شوي. په دی څیرنه کی د ۲۵ څخه زیاتی مرکې (اووه یې د ښځو سره) تر سره شوی دي. که څه هم دا څیرنه په دو ولایتونو کی تر سره شوی ده، خو دی ته ورته ځواب په نورو سیمو کی د محققینو له خوا څرګند شوی، او دا ددی ښکارندو یه کوی چی دا انګیرنه چی دلته وړاندی شوه د افغانستان په ډیرو سیمو کی شتون لري.[7]

سره له دی چی نړیوالو ځواکونو د خپلوکړنو په اړوند د پام وړ ښه والی رامنځ ته کړی، خو بیا هم افغانان د کورنیو او بهرنیو ځواکونو د کړنو او د مسؤولیت نشتوالی له کبله انتقاد کوي. دا اندیښنی د نړیوالو ځواکونو په اړه بدی انګیرنی راولاړوی او د ملکی تلفاتو او زندانیانو په هکله د پالیسی د بدلون استراتیژيك اهمیت او ارزښت تر سوال لاندی راولی.

### الف) په پالیسی کی د وروستیو بدلونونو لمړنی اغیزی

شاو خوا شپږ میاشتی وروسته له هغه نه چی د جګړی تکتیکی دستوارت او نور د پالیسیو بدلونونه خپاره شول، نو دی بدلونونو پر ځینو مهمو برخو د پام وړ اغیزی واچولی. دا په داسی حال کی ده چی یونما ۲۰۰۹ کال کي د

طالبانو له منځه تلو را پدیخوا ترټولو خونړی کال بللی.[8] همدا شان رپوټ ورکړل شوی چی په هغو ملکی تلفاتو کې چی مسؤولیت یې کورنیو امنیتی ځواکونو او نړیوالو ځواکونو ته راجع کیږی د پام وړ (۲۸ سلنه د ۲۰۰۸ کال په پرتله) کمښت راغلی.

دا په داسی حال کی ده چی نوی س‌تراتیژی هغه ملکی تلفات چی لامل یې هوایې بمباری وو راټیټ کړی، خو د شپی د چاپو په ستونزوکی لږ اغیزی لری. د یونما رپوټ د هغو اندیښنو په باب خبر ورکوی چی د شپی چاپو یې عملیاتو کی (د حد نه د زیاتی قوی) څخه کار اخستل کیږی، همدا شان رپوټ ورکړل شوی چی په کال ۲۰۰۹ کی ۹۸ ملکی وګړی د شپی چاپو په یرغلونو کی مړه شوی دي . رپوټ دا هم کاږی چی "د بد چلند تورونه، تعرضی رفتار او سلوك او کلتوری حساسیتونه، خاصتا د ښځو پر وړاندی شوی دي."[9]

د یونما د موندنو سره په سمون کی، یو څو م رکه کوونکو د دی څیړنی په تړځ کی وویل چی د دوی په سیمو کی د تیرو شپږو میاشتو را پدیخوا له کله نه چی جنرال مك کرستال د ۲۰۰۹ کال د جولای په میاشت کی د جګړی دستورات خپاره کړل د هوایې بمباریو بیلګی شته، خو ډیرو بیا د شپی د چاپود پیښنو په هکله خبری کولی. افغانان وروستی پیښی داسی بیانوی چی په هغه کی نړیوال ځواکونه د کورنیو ځواکونو سره او یا جلا له هغوی څخه د ناوړه چلند، د شیانو غیر ضروری له منځه وړل او کلتوری اساساتو درناوی نه کول د شپی چاپو په ترڅ کی لاس اچولی. په ځینو پیښو کی، خلك وایې چی دوی ددی شاهدان دي چی نیول شوی کسان په ټوپکو او لغتو وهل شوی او لاسونه یې ورته تړل شوی.[10]

پخوانیو بندی شویو کسانو او د شپی د چاپو کتوونکو وویل چی نړیوال ځواکونه لوښی ما تړی، د کور اسباب له منځه وړی او موټرو ته اور اچوی . داسی کړنی په ډیرو ځا یونو کی لیدل شوی او د ډیرو خلکو له خوا په دی هکله اندیښنی او شکایتونه شوی دی.

ټولې لیدل شوی پیښی منفی نه وی. مرکه کوونکو د شپی چاپو په اړوند یو څو بیلګی وړاندی کړی چې په هغې کښی مقدس قرآن او ښځو ته یکی بی احترامی لیدل شوی وه . که څه هم دوی وویل چی دا ستونز ی پخوا شوی دی خو په هیڅ توګه د ښلو وړ ندی. ښایی په دغه پیښو کی کمښت د نوی ستراتیژی له کبله وی، چی پدی ستراتیژۍ کې دینی او کلتوری ارزښتونو تهپاملرنه ډیر اهم ځای لری او په خاصه توګه عسکرو ته امرشوی چی د ښځو په وړاندی له پوره احترام څخه کار واخلی او ځایی حساسیتونه په پام کی ونیسی.[11]

که څه د هری پیښی کره کول او د واقعیتونو پیدا کول ګران او یا حتی ناشونی کار دی، خو بیاهم دارنګه تورونه پوره دلیل کیدای شی چی دا سوال راپورته کړی چه آیا نړیوالو ځواکونو له نړیوالو قوانینو څخه تیری کړی او یایې خپل داخلی پوځی قواعد تر پښولاندی کړی . دا په داسی حال کی ده چی د جنګ په وخت کی د کورونو تلاشی او د مظنونینو نیول مجاز عمل ګڼل کیږی، خو نړیوال قوانین حکم کوی چی نیوونکی طرف باید هغه اساسی او معیاری کړنی او سلوك د نیول شویو کسانو پروړاندی مراعات کړی. د بیلګی په توګه، د یو غیر مسلح او تړل شوی کس وهل او ټکول په واضح توګه د ژینو د کنوانسیون خلاف عمل دي.

سربیره پردی، د شپی چاپی او عملیات د نړیوال بشرپالو قوانینو د تناسب او تمیز د اصولو تابع دی .[12] په بل عبارت، د شپی چاپو عملیات باید یواځی پوځی موخو ته متوجه وی، او هر جانبی ضرر چی ملکیانو ته رسیږی باید د پوځی هدف د ګټو سره په تناسب کې وي. په هغو د شپی چاپو اوعملیاتو کی چی د زیاتی قوی د کارولو له کبله ملکی خلکو او شتمنیو ته یکی له تناسب څخه زیات ضرر او زیان رسیدلی وی دا اندیښنی را ولاړوی چی آیا پورتنی اصول مراعات شوی وی او که نه.

دولتونه چی په کورنی وسله واله منازعی که ښکیل دی باید د بشری حقونو قوانینو د قانون د تنفیذ پر اصولو چی د سولی په وخت کی الزامی دی تکیه وکړی، په داسی حال کی چی د نړیوالو بشر پالو قوانینو د اصولو پرخلاف

دي، او دا په نړیوال‌و قوانینو کې یوه پرانیستې لاره ده .[13] د حقوقي پلوه دا یوه موضوع ده چې نه ده روښانه شوې، خو د پالیسي له نظره د هغې قیمت او ګټې معلومې دي. د قانون د تنفیذ اصول د اتفاقي ضرر او زیان په اړه ډیر محافظوي شرایط لري، د مسؤولیت له پلوه ډ یرو پوښتنو او اندېښنو ته ځواب وا یي، او همدارنګه د محکومیت او یا برات په موخه د ثبوتونو او شواهدو د راټولولو ښه امکان برابردي، او کیدای شي په افغانستان کې د قانون د حاکمیت لپاره په تدریجي توګه لاره اوار ه کړي. نو په دغه اساس ، په زغرده توګه داسې مشوره ورکوو چې، د امکان تر حده که چیرې پوځي ځواکونه هغه د شپې چاپې عملیات چې اجتناب نه منونکې دي باید د قانون د تنفیذ او د نړیوالو بشري حقوقو د معیارونو په مطابقت کې ترسره کړي.

**ب) پرطبي او نورو بشري سازمانونو باندې یرغل**

د ملکي خلکو کورو نه د شپې د چاپو یواځیني موخې نه د ي. غیر حکومتي سازمانونه او طبي مرکزونه هم د نړیوالو او کورني ځواکونو تر یرغل لاندې راځي. په یوه روښانه بیلګې کې، نړیوال ځواکونو د ۲۰۰۹ کال په اګست میاشت کې د سویډن کمیټې اړونډ یو کلینيك باندې د وردګو په ولایت کې یرغل وکړ. د سویډن کمیټې وویل چې ځواکونه په زور سره کوټو ته ننوتل، ځایي کارکوونکې او د مریضانو خپلوان یې وتړل، او بیا یې مریضانو ته امر وکړ چې د خپلو کوټو څخه بهر شي.[14] همدارنګه ویل کیږي چې نړیوالو ځواکونو د کلینيك کارکوونکو ته امر وکړ چې د مشکوکو مریضانو په اړه دوی ته اطلاع ورکړي .[15] آیساف پدې اړوند ویل‌ی وو چې د دوی ځواکونو د ننه مخ کې اجازه غوښتې وه.

د نړیوالو قوانینو مطابق، طبي مراکز، حتی که هلته مخالفین او شورشیان تر درملنې لاندې هم وي په ټولیزه توګه د یرغل څخه ساتل شوي ځایونه دي. یونما وویل چې حقیقت دا دی هغه وخت چې دوی په وردګو ولایت کې دغه طبي مرکز د ننه شول نړیوالو ځواکونو د مجاز حد څخه تیری کړی.

**ج) د نړیوالو ځواکونو تصور او انګیرنه**

د شپې چاپو عملیاتو کې کړنې لکه په زور سره د شپې له خوا کورونو ته ننوتل، د کورنې د ښځو سره مخامخ کیدل، په خپل ذات کې د شخصي حریم د اصولو سره روښانه تناقض دی . افغانان په دې عقیده دي چې ښځینه پوړنې مقدس دی او باید بیګانه هغ ی ته ونه ګوري. ځینې ښځې چې له هغوی سره مرکې شوې له دې هیره لري چې د شپې چاپو په عملیاتو کې دوی خارجیان لیدلي او یا خارجیانو دوی لیدلي نو دوی به دوزخ ته لاړې شي.[16]

له کومه ځایه چې دا ډول عملیات په افغاني ټولنه ډیر کرکجن دي نو د ناوړه چلند رپو ټونه د مبالغې لپاره ډیر مناسب او وړ دي. د ډلو سره د مباحثې په وخت کې یو شمیر مرکه کوونکو داسې هم وویل چې نړیوالو ځواکونو قرآن شریف ټوټه کړی، ښځینه یې په یوازې توګه په هیلیکوپتر کې بیولې او بیرته یې مړې راوړې او ماشومان ئي په ډزو وژلې.

که چیرې داسې وګڼو چې ځینې دا او دې ته ورته پیښې ښایي د مخالفینو پروپاګند وي، خو بیا هم افغانان دا منې. انګیرنه داده چې ځواکونه د شپې چاپو عملیات د خپلو پروتوکولونو پر اساس ترسره کوي، او په دې بهیر کې ځواکونه نورو غیر ضروري او بد چلندونو ته هم لاس اچوي.

په داسې حال کې چې ډیرې شکایات پرته له کره والي څخه پاتې کیږي او نوریې په ساده توګه غلط ګڼل کیږي، خو نړیوال او کورني ځواکونه په دې باید پوه شي چې دوی د هغه واقعیت پراساس جوړ شوي چې له ناوړه چلند څخه سرچینه اخلي، او حتی هغه "د نه باور وړ " تورونه افغان خلکو ته د رواني منازعې د ورپیژندلو لاره جوړوي. که چیرته دا پروپاګند، م بالغه، او یا واقعیت، د شپو چاپو اړوند شکایت ډیر ژر خپریږي او د شدیدو غبرګونونو لامل ګرزي. وروسته له هغې نه چې د اکتوبر په میاشت کې د وردګو په ولایت کې د شپ ې چاپې په ترڅ کې قران شریف ته سپکاوی شوی وو، په ټول هیواد کې ۱۵ مظاهرې په لاره واچول شوې.[17]

وړاندی، داسی کړنی او کردار د نړیوالو ځواکونو په اړوند منفی انځ ور جوړوی، او کله هم خلک په تولیزه توگه د مخالفینو ملاتړ ته مخه کوی. لکه چی یوه مرکه کوونکی داسی وویل ، "که چیری یو څوک د ښځو په وړاندی ولڅک شی، نو هغه ته کومه لاره نه پاتیږی پرته له دی نه چی د مخالفینو سره یوځای شی او غره ته لاړشی."[18] هر یو د شپی چاپو عملیات چی تر سړه کیږی دغه اندیښنی او تصور ته زور ورکوی او د مخالفینو پروپاگند ته تازه ساه ورکوي.

### د) د شپی چاپو په وړاندی د مسؤولیت نشتوالی

د ټولنی قهر د شپو چاپو د عملیاتو په اړوند د مسؤولیت او ځواب ورکونی په نشتوالی کی ریښه لري. ډیر وخت افغانان پدی نه پوهیږی چی دا عملیات د چا له خوا تر سره شوی او یا دا چی نیول شوی کسان چیرته دی . د یو بندی د خپلوانو لپاره افغان حکومت، ځای د و لایتی بیا رغونی ټیمونه او عملیاتی ه ډی هغه لومړنی آدرسونه دی چی دوی کولای شی د خپل بندی کس په اړوند پوښتنه وکړی. مرکه کوونکو وویل چی کله دوی هڅه کوی چی د معلوماتو لاس ته راوړلو په موخه نړیوالو او یا کورنیو ځواکونه ته مراجعه وکړی، نو دوی ته یا هیڅ پاملرنه نه کیږی او یا هم تهدید کیږی.

"دوی هڅو ته نشی ورتلای . هغوی ته د ننه کیدو اجازه هم نه ورکول کیږی ". د ټولنی یو مشر دا څرگندونی وکړی. "ډیر خلک یوازی د ورتگ څخه بیویږی. هغوی ډاریږی که چیرته دوی د چا د پوښتنی په موخه ورشی پر دوی به هم یرغل وشی."[19]

یو پوښتل شوی کس د ۲۰۰۹ کال د جولای میاشتی د پکتیا ولایت د یوی پیښی په اړوند چی په هغه کی ښایی یو کس د شپی عملیاتو کی وژل شوی وی، داسی وویل. کله چی مشران کمپاین ته چی په عملیاتو کی یی ونډه لرله ورغلل، ورته وویل شول چی ښه به وی چی دا پیښه هیره شی که نه دوی به گوانتانامو ته واستول شی.[20]

د ۲۰۰۸ کال د می په میاشت د ملگرو ملتونو ځانگړی استازی فلیپ الستون هم نړیوال ځواکونه ددی په باره کی چی هغوی یا نشی کولای او یا هم نه غواړی چی مسؤولی ډلی و پیژنی، تر انتقاد لاندی راوستل:

> د نړیوالو ځواکونو څخه د توضیحاتو غوښتل داسی دی کله چی یوی لوی معما ته ور داخل شی. ما په خپله دا معما تجربه کړه. د آیساف یوه قوماندان وویل هغه وخت به د دوی لپاره شونی وی چی دا تصدیق کړی چ ی دا عملیات د ځانگړیو ځواکونو د یونت یا ډلی له خوا ترسره شوی، هغه وخت چی دوی له پورتنی د آیساف د ځانگړو ځواکونو له قوماندانی څخه معلومات تر لاسه کړی، او هغوی هم په خپله وار دا معلوما ت د آزادی راوستلو قوماندانی ته لیږدوی، تر څو معلومه شی چی کومی ډلی په عملیاتو کی برخه درلوده.[21]

کابو دوه کاله وروسته هم د الستون نیوکی لا هم ځای لري. د شپی چاپی عملیات اکثرا د ځانگړو ځواکونو له خوا ترسره کیږی، چی دوی د آیساف د بیارغونی ولایتی ټیمونو او سیمه ییزو قوماندانیو څخه بهر دی. که څه هم په ۲۰۰۹ کال کی هڅی شوی چی د ځانگړی ځواکونو د قوماندی مراتب په ښه صورت ترتیب شی، ځای د آیساف قوماندانان لاهم د دوی په سیمو کی د شوي و عملیاتو په اړه بی خبره پاتیږی . د ۲۰۰۹ کال د نوامبر په ۱۹ په کندز ولایت کی په هغه گډ مجلس کی چی د شمال سیمه یز قوماندانی او بشری او انکشافی ادارو ترمنځ جوړ شوی وو، د آیساف یو قوماندان د امریکی د ځانگړو ځواکونو د وروستنیو عملیاتو په اړوند ناخوښی څرگنده کړ ه او زیاته یي کړه چی د دوی سره د عملیاتو پـه اړوند معلومات نه و و شریک شوی. "آیساف ددی وړتیا نلری چ ی

د امریکی ځانګړو ځواکونو ته وو  ای چی دا وکړی."[22] کله چی مستقلو کتونکو په جنوبی ولایتونو قندهار او هلمند د هغه وروستیو عملیاتو په اړوند چی د آیساف له خوا  تر سره شوی وویل، د ځانګړو ځواکونو د عملیاتو اړوند اندیښنی لاروښانه کیږی، دا  به آسانه وی چی د آیساف له خوا د شويو  عملیاتو په اړه اندیښنی راپورته او هغه کسان وپیژندل شی چی په عملیاتو کی ونډه اخلی.[23]

د شپې چاپو عملیاتو له کبله زیانمنی شوی کورنیو ته د مسولی ډلی د پیژندنی د روښتیا د نشتوالی له کبله ګرانه ده چی دوی د خپل ګرم کس وپیژنی ا  و د خساری جبران ته لاس پیدا کړي، لکه چی د مک کرستال د پوځی ستراتیژی د ارزونی په سند کی هم دی ټکی ته اشاره شوی ده .[24] په افغانستان کی آیساف د خساری د جبران یو جامع سیستم نلری چی دا د دوی د ځواکونو لپاره د کومی په صورت کی ستونزه جوړوی .[25] کله چی دا ځواکونه د پیژندو نه وی، چی اکثرآ هم همداسی دی نو بیا په هغه حالت کی زیانمنو ته ډیره ګرانه ده چی د خپلی خساری تاوان تر لاسه کړي.[26]

همدارنګه داسی ښکاری، چی د استخباراتی معلوماتو د چڼ کولو  کوم چی دغه عملیات د  هغی پر بنسټ تر سره کیږی، لږ پاملرنه کیږی. ډیر خلک چی د شپو ع ملیاتو په پایله کی نیول شوی وو وا  ی چی دا غلط معلومات د دوی د رقیبانو او د ښمنانو له خوا په قصدی توګه نړیوالو ځواکونو ته ورکړل شوی وو. که څه هم دا ګرانه خبره ده چی دا تورونه کره کړای شی، خو واقعیت دا دی چی دا کسان لږ وروسته له نیول کیدو بیرته خوشی کیږی. د غلطو هوایی بمباریو بیا بیا تکرار کیدای شی  پورتنیو خبرو  ته لاهم قوت ورکړی. لکه چی یو دوکاندار د پکتیا ولایت څخه وویل، "افغان او نړیوالو ځواکونو شپږ ځلی زما پر  کور یرغل وکړ. هر ځل دوی زما کور تلاشی کړ، هغوی  هیڅ شی هم پیدا نکړل او بخښنه   یی وغوښته او وویل  چی غلط معلومات دوی ته ورکړل شوی وو."[27]

د نورو جګړو څیړنی هم دا په ډاګه کوی چی د معلو  ماتو ورکول یو او یا بل لوری ته  شخصی لاملونه لری.[28] دی آزمایښی تجربی  ته پام سره او د افغ انستان قومی جوړښت ته په کتو سره ، دا ډیره حیران کوونکی نده چی وویل شی چی ډیری معلومات چی د ه  غی پر بنسټ د شپې چاپې عملیات ترسره کیږی  شخصی لاملونه لري. دا په داسی حال کی ده چی یو شمیرلږ صحیح وی، خو نور معلومات غلط وي. په دی دلیل، ددغه معلوماتو د کره کولو په موخه د وړمیکانیزم رامنځ ته کول یو حتمی او الزامی خبره ده.

افغانان دغو یرغلونو ته ګوته نیسي او شکایت لری چی نړیوال ځواکونه د معافیت تر  چتر لاندی فعالیت کوی. دا نیوکی حیران کوونکی نه دی، دی ته په پام سره چی دا عملیات  څرنګه او د چا له خوا تر سره کیږی او د داسی میکانیزم نشتوالی چی وروسته د عملیاتو اندیښنو او شکایاتو ته پاملرنه وشی  . په افغانستان کی ملکی او پوځی ستراتیژی دواړه د قانون د حاکمیت پر  اهمیت او ټیکاو په راوستلو کی د دولت پر مسؤولیت ټینګلر کوي. د ناوړه چلند او د حساب ورکولو نشتون رپوټونه د دغه یرغلون  و  په اړوند په افغان زندانونو او عدلی سیستم کی  ، شته عیبونه لاهم تقویه کوی په عوض ددی چی هغه اصلا ح کړی. په داسی حال کی چی نړیواله ټولنه میلیونونه ډالره هرکال د قانون د حاکمیت د ښه کولو په موخه لګوی، خو نړیوال ځواکونه ددي په وړاندی عمل کوی او د حساب ورکولو د  یو وړسیستم د نشتوالی له کـبله چی د شپې چاپو په بهیر کی د ناوړ  ه چلند، د شتمنیو له منځه وړل، غلطی نیونی او لازمو پروسو ته د غاړی نه اینبودلو ته ځواب ووای.

### ذ) د افغان ملی امنیتی ځواکونو، ملیشو او نورو افغانی غاړو کړنی

د ۲۰۰۹ جولای تکتیکی دستوراتو یوه مهمه برخه د ملی امنیتی ځواکونو ونډه اخیستل په ټولو عملیاتو کی و ه، او دا هغه شي وو چی افغانانو یې غوښتنه کوله.

خو له بده مرغه د دغو ښو بدلونونو یو شمیر ګټې د افغاني ځواکونو د ناوړه کړنو له امله ترسوال لاندې راغلې . کله چې نړیوال ځواکونه کوم څوک نیسي نو بیا هغه افغان ملي پولیسو، ملي اردو او یا ملي امنیت ته سپاري، او دا هغه بنسټونه دي چې د فساد او د شکنجو تور ونه پرې لګیدلي.[29] هغه کسان چې د نړیوالو ځواکونو له خوا نیول شوي، د خپل خلاصون په خاطر یې د زرګونو امریکایي ډالرو په ارزښت رشوتونه ورکړي.

مرکه کوونکي په خاصه توګه د ملي پولیسو او ناقانونه ملیشو چې د کمپاین په نامه مشهوري دي د ناوړه چلند څخه شکایت کوي. د کمپاین ځواکونه په خاصه توګه ستونزمن دي ځکه چې دوی د افغان امنیتي ځواکونو برخه ندي، نو دوی د نړیوالو ځواکونو په څنګ کې د شپې چاپو عملیاتو کې اندیښنې ډیروي او وضعیت لاهم خرابوي. څرنګه چې د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي فلیپ الستون پدې اړوند داسې وايي:

> دا په مطلقه توګه د منلو وړ نده چې پوره وسله وال نړیوال ځواکونه د پوره وسله والو افغان ځواکونو په مل تیا شاوخواګرزي له دې نه چې د هغو مسؤولیت څوک واخلي.[30]

مرکه شوي خلک پدې اند دي چې د کمپاین ځواکونه او نور افغانان په قصدي توګه نړیوالو ځواکونو ته غ لط معلومات ورکوي ترڅو دوی د خپلې شخصي تربګنې او دښمنۍ تر سره کړي . د مرکه شویو غوڅ اکثریت غلطې نیونې او بندي کول د غلطو او قصدي معلوماتو له کبله ګڼي . نژدې ټول مرکه شو ی پدې اند دي چې ښه به دا وای چې د شپې چاپې او نیونې د افغاني ځواکونو له خوا ترسره شوي وای. او دا پدې خاطر چې د دوی ونډه به د دې لامل ګرزیدلې وای چې دوی د معلوماتو او حساب ورکونې پوره هڅې کړي وای.

**IV- پایلې**

افغانان د نړیوالو ځواکونو او مخالفینو تر منځ د زیاتیدونکې خشونت ښکار دي. د اکثرو افغانانو لپاره چې د منازعې په سیمو کې ژوند کوي، د ساه ایستلو ځای نشته. خلک کوښښ کوي چې د دواړو غاړو یعنې نړیوالو ځواکونو او مخالفینو څخه لرې وي، خو په ناچارۍ داسې هم کیږي چې ملکي خلک د یو یا بل طرف څخه موخه ګرزول کیږي.

یو قومي مشر د خاص ارزګان څخه داسې وویل:

> اوس دلته شپږ دولتونه دي – ولایتي بیارغوني ډلې، هزاره ملیشې (که د کمپاین ځواکونه)، ملي اردو، ملي پولیس، ولسوالي، او طالبان . مونږ د ټولو ترمنځ ګیر راغلي یو . که چیرې دولت پلوته لاړشو نوطالبان مووژني . که چیرې طالبانو ته ورشو، نودولت به موونیسي او یا به بمباري راباندې وکړي.[31]

د شپې چاپې او د معافیت کلتور د هغو لپاره چې دا عملیات ترسره کوي د نړیو الو ځواکونو څخه د شکایت عمده او اساسي برخه ده. دا عملیات هغو پروپاګندو ته چې د افغان دولت او نړیوالو حضور په افغانستان کې پر ضد کیږي پر اور باندې د تیلو اچولو معنی لري. دا ډول روشونه نړیواله ټولنه دهغې د اصلي موخو یعنې د ټیکاو راوستو او د خلکو اعتماد او ملاتړ د حاصلولو په چارو کې پاتې راولي.

د پوځي استراتیژیک لیډلورې څخه، دا روشونه د شورش ضد نوي استراتیژۍ مثبت او ښه بدلونونه تر پوښتنې لاندې راولي. د هوايي بمباریو او د هغې له ا مله د ملکي تلفاتو له کمښت سره -سره، د خلکو بیانات د خوست او پکتیا څخه د نورو منازعو ځپلو سیمو په شان دي، د نړیوالو ځواکونو په باب انځور بدلون ندی موندلی، او حتی دوی وايي چې دا کارونه قصدي کوي. د افغانانو عذاب به ترهغې چې ناوړه د شپې چاپې او غلطې نیونې بلې ته نه وي رسیدلې ختم نشي.

**۷- وړاندیزونه**

**۱.د شپې د چاپو‌او عملیاتوپه عوض د نوری لاری ولټول شی.**

د شپې د چاپو روش باید له سره وکتل شی او دقت بېړدی وشی چې ولی او په څه شرایطو کی باید د شپې له خوا عملیات وشی، او د مظنونینو نیول او دستګیر کول د قانون د انفاذ د کړیو له خوا ولی مناسب او شونی نه دي . که څه هم په ځینو حالاتو کی بنا ښي د یو چا د نیونې لپاره د شپې عملیات یوازینی لاره وی، خو په ډېرو حالاتو کی لیدل کیږی چې نوری کم ضرره لاری هم شته چې باید په پام کی و نیول شي . افغان خلک دا پوښتنه کوی چې ولی نړیوال ځواکونه په آسانی سره یو مظنون د ورځی له خوا او په لږ ناوړه توګه چې د عادی تګلارو سره په مطابقت کی وی نه نیسي؟

**۲. د شپې چاپې عملیات باید د ځايي آیساف قوماندانانو سره ه‍م غږی شي.**

د شپې چاپې عملیات کولای شی ډېری زیاتی شخړی او جګړی رامنځ ته کړی . ددی له کبله چې د ځانګړو ځواکونو له خوا عملیات ترسره کیږی، ځایي قوماندان شکایت کوی چې دوی حتی پردی ندی خبر چې څه وخت دا یرغل د دوی په ساحه کی ترسره شوی. ښه هم آهنګی کولای شی چې لاس ته راوړنی وساتي او د ناوړه پایلو مخ نیوی وشي. ځايي قوماندانان د دوی په ساحوکی د عملیاتو نه خبر کړی شی ا و په صلاحیت، هدف نیونی او ترسره کولو کی ونډه ورکړی شی.

**۳. د غلطو معلوماتو مخ نیوی.**

په داسی یوه ټولنه کی چې د قومونو او قبیلو پارچې زیاتی وی، لکه افغانستان، نو په کار دا ده چې پوځیان باید معلومات په ډیره کره توګه د زیاتو او بیلابیلو سرچینو په ګډون د افغان دولت سره چڼ کړي.

او همداشان نړیوالو ځواکونو ته هم په کار ده چې د شپې عملیاتو او نورو عملیاتو کی شواهد او معلومات ثبت او راټول کړي. په دی کار سره به د عدلی پړاوونو اعتبار چې زندانی بېورسره مخ کیږی لازیات شي.

**۴- له دی نه باید اطمینان ترلاسه شی چې د افغانی ځواکونو ګډون د بدچلند لپاره لاره اواره نکړی.**

په داسی حال کی چې افغان ځواکونو ته د شپې عملیاتو کی ونډه او صلاحیت ورکول یو مهم پرمختګ دی، او د خلکو غوښتنه هم داوه، خو دا د ټولو دردونو دوانه ده . د ډېرو افغانانو لپاره، نړیوال ځواکونه مسؤول دی که چیری دوی د هغه افغانی ځواکونو چې د دو ی سره په عملیاتو کی ملتیا کوی د ناوړه چلند او یا د قانو ن نه مراعاتولو عمل مخنیوی ونکړی. نو د ډېرو مسؤولیتونو ورکول افغانی ځواکونو ته په دی معنی نه دی چې د دی ګرمتیا څخه خلاص شی چې عملیات څرنګه تر سره شوی دي . له دی کبله افغانی امنیتی ځواکونه باید د ناوړه چلند پر وړاندی مسؤول و پیژندل شی او داسی وروزل شی چې هغه ېټووتنی چې نړیوالو ځواکونو کړی دی تکرار نشي.

**۵. د ناقانونه ا و بی نظمه ملیشو سره د کار کولو څخه ډه ډه وشي.**

د وسله والو ډلو او د کمپاین ځواکونو سره چې د افغان دولت د امنیتي دستګاه ‌ ‌ څخه بهر دی کار کول یوه فاجعه ده. د دغو ډلو ځارنه ګرانه خبره ده. څیړنه ښکاره کوي چې افغانان غواړي چې هغه ځواکونه وکارول شي چې د دولت سره ارتباط ولري، تر څو وکړای شي ترېوه حده دوی تر پوښتني او حساب لاندې راولي.[32] څه نا څه دوی پوهیږي چې چا ته شکایت وکړي او څوک باید مسؤول وګڼل شي.

**۶) د اعتماد رامنځ ته کول د ځواب ورکولو له لارې.**

د اوږ کللو شپې چاپو څخه وروسته، افغانان د نړیوالو ځواکونو پر وعدو چې ددوی کړنې به سمې شي بې باوره دي. د دې له لاسه تللې اعتماد بیرته راوستل ګران کار دی، خاصتا که چیری د شپې چاپې همداسې دوام و مومي. حتی که کړنې هم سمې شي خو د شپې چاپو عملیاتو دوام به د پرمختګ مخه ډب کړي. نړیوال ځواکونه باید ډیرڅه وکړي تر څو د خلکو اعتماد بیرته ترلاسه کړي.

د مسؤولیت او حساب ورکونې ښه والی به د اعتماد جوړولو لپاره یوه ښه وسیله وي. ځانګړي بدلونونه به دا وي: د شپو چاپو پر وړاندې شفافیت، لږ ترلږه وروسته له واقعي ‌ ‌ څخه، افغاني طرف باید حسا ب ورکوونکي او مسؤولیت منونکي وي، او د زیان من شوي و ټولنو سره باید اړیکې و نیول شي . د بخښنې غوښتل او په کومو ځایونو کې ضرور وي د خسارې جبران هم د خلکو د غصې را ټیټولو په اړوند او د ځواب ویلو د کلتور د رامنځ ته کولو په موخه ښه کار بلل کیږي.

د دې لپاره چې دا ‌ ترسره شي، نړیوال ‌ ځواکونه باید د شکایاتو او ستونزو اوریدو او ځواب ورکولو لپاره یومیکانیزم جوړ کړي او تر ‌ کومه ځایه چې ښا یې خسارې ورکړل شي . د دې لپاره چې موثریت ولري، دا میکانیزم باید د شپې د عملیاتو په اړوند اود ټول معلومات په شمول د هغه دلایلو چې وښيي دا عملیات د ورځې په عوض د شپې له خوا ترسره شول . د مسؤولیت او حساب ورکولو په موخه د آیساف یا امریکایي مسؤول نظامي آمر له خوا باید په لیکلې توګه د عملیاتو ‌ امر ورکړل شي. دا میکانیزم باید افغانانو ته د لاس رسي وړ ‌ وي، او خلکو ته باید د عملیاتو په اړوند معلومات ورکړل شي. د ملکي تلفاتو د پیګیرۍ ځانګه په ۲۰۰۸ کال کې جوړه شوه، خو یوازې وویل، دا ځانګه په ځانګړې توګه وړ او ځواب ویونکي نده.[33] د شکایتونو او اندیښنو اوریدل ا و هغوی ته ځواب ویل د ریښتیا حساب ورکولو په معنی نه ده، بلکه ددې صلاحیت لرل چې دې اندیښنو ته په وړ او عملي توګه ځواب وویل شي.

---

[1] وګوری، د بیلګې په توګه، سوساني شمیدل، ۲۰۰۹، "تر هغې چې هغه بل احمد پیدا کوي..." د افغانستان د څیړونکو کمیته، (د لاس رسي وړ د ۲۰۱۰ کال د جنوری ۲۵) http://aan-afghanistan.com/index.asp?id=508 اوجاناتان هاروونز، "ټول وحشت دې نیوني او تحقیق د امریکایانو له خوا، پخواني د بګرام زنداني وایي" Huffington Post, July 28, ۲۰۰۹-http://www.huffingtonpost.com/jonathan-horowitz/former-bagram-detainee-de_b_275795.html. ،( د لاس رسي وړ د ۲۰۱۰ کال د جنوری ۲۶).

[2] "د ایساف لمړنی ارزونه (نا محرمه) د لیږون وړ سند دی،" د ۲۰۰۹ کال د اګست ۳۰مه، http://www.washingtonpost.com/wpdyn/content/article/۲۰۰۹/09/21/AR۲۰۰۹092100110.html. (د لاس رسي وړ د ۲۰۱۰- کال د جنوری ۲۵).

[3] بیلګې ته وګوری، د بشري حقونو څپلواک کمیسیون، د امید نه د ویرې په لور: د افغانانو لید لوری د دولت پلوه ځواکونو د کړنو په اړوند، د ۲۰۰۸ کال دسمبر.

[4] "د ایساف لمړنی ارزونه (نا محرمه) د لیږون وړ سند دی،" د ۲۰۰۹ کال د اګست ۳۰مه،

092100110.html.۲۰۰۹/09/21/AR۲۰۰۹http://www.washingtonpost.com/wpdyn/content/article/ (د لاس رسی وړ د ۲۰۱۰-کال د جنوری ۲۵).

[5] ناتو/آیساف،"د آیساف تکتیکی دستورات"، کابل افغانستان، د ۲۰۰۹ کال د جولای میاشت، ۲ مخ.

[6] وګوری، یونما په افغانستان کی، کلنی رپوټ د ملکی خلکو ساتنه په منازعه کی،۲۰۰۹، د ۲۰۱۰ کال جنوری، ۲۰۰۹http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/human%20rights/Protection%20of%20Civilian%20 .20report%20% انګلیسی متن پی ډی اف، ( د لاس رسی وړ د ۲۰۱۰ کال د جنوری ۲۶). [وروسته ددی نه د "د یونما ۲۰۰۹ کال د ملکی خلکو د ساتنی د رپوټ" په نامه یادیږی.]

[7] وګوری، د یونما د ملکی خلکو ساتنی رپوټ ته، ۶ یاددښت، سوسانی شمیدل، الکساندر د مندت، او نیک میساک، د برستنی له څنډی: افغانستان په جنوب کی د کورنی بی ځایه شویو د لازیاتی ساتنی لپاره، ګډه څیرنه د بروکنس/بیرن د بی ځایه شویو پروژه او د اړیکو څانګه، واشنګټن د بروکنس انستیتیوت ۲۰۰۹، [وروسته ددی نه د " شمیدل، مندت، او میساک، د برستنی له څنډی" په نامه یادیږی.].

[8] د یونما د ملکی خلکو ساتنی رپوټ، ۶ یاددښت.

[9] د یونما د ملکی خلکو ساتنی رپوټ، ۶ یاددښت.

[10] مرکی، خوست، د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر ۲۴ مه او نوری مرکی، او مرکی، خوست، د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر ۱۵ مه او نوری مرکی.

[11] د آیساف تکتیکی دستورات، ۲ مخ، ۵ یاددشت.

[12] د ژینو د کنوانسیون اضافی پروتوکول ۱ د ۱۹۴۹، او د قربانیانو ساتنه په نړیواله وسله واله منازعه کی، ۵۱ ماده، د جون ۸ مه، ۱۹۷۷، یو. ان. ټی. اس. ۳. دا اصول همدا شان په نړیوالو عرفی قوانینو کی شته، جین میری، د نړیوالو بشر پالو قوانینو د عرفی قواعدو مطالعه، قواعد ۱۴-۱، ۲۰۰۵.

[13] مارک فری من، "نړیوال قوانین او کورنی وسله واله منازعه: د بشری حقونو او بشرپالی ساتنی د ارتباط توضیح"، د بشرپالی مرستی ژورنال، د ۲۰۰۷ د جولای د میاشتی ۲۴ مه.

[14] وګوری، د سویدن کمیته د افغانستان لپاره، "نړیوال ځواکونه د سویدن کمیتی کلینیک ته په وردګو کی په خشونت د ننه شول"، مطبوعاتی اعلامیه، د ۲۰۰۹ کال د سپتمبر ۶ مه.

[15] یونما، افغانستان: کلنی رپوټ د ملکی خلکو ساتنه په منازعه کی،۲۰۰۹، د ۲۰۱۰ کال جنوری، ۲۰۰۹http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/human%20rights/Protection%20of%20Civilian%20 %20report%20English.pdf (accessed January 26, 2010), p 21-22.

[16] د لیکونکی مرکی په ګردیز کی د ښځو سره، پکتیا، د ۲۰۰۹ کال د دسمبر ۱۶.

[17] یونما، افغانستان: کلنی رپوټ د ملکی خلکو ساتنه په منازعه کی،۲۰۰۹، د ۲۰۱۰ کال جنوری، ۲۰۰۹http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/human%20rights/Protection%20of%20Civilian%20 %20report%20English.pdf (accessed January 26, 2010), p 20.

[18] مرکه، ګردیز پکتیا، د ۲۰۰۹ کال د دسمبر ۹ مه.

[19] مرکه، ګردیز پکتیا، د ۲۰۰۹ کال د دسمبر ۹ مه.

[20] مرکه، ګردیز پکتیا، د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر ۲۷ مه. ددی تهدید با وجود، د ۲۰۰۸ کال را هیسی کوم بندی ګوانتانامو ته ندی استول شوی.

[21] د فلیپ الستون مطبوعاتی اعلامیه، د ملګرو ملتونو ځانګړی استازی په نا قانونه او خپل سری اعدامونو په چارو کی، کابل، د ۲۰۰۸ کال د می میاشتی ۱۵ مه، http://www.extrajudicialexecutions.org/application/media/Statement,%2015%20May%202008,%20Kabul,%20Afghanistan%20%5BEnglish%5D.pdf (accessed January 25, 2010), p.2.

[22] د شمال منطقوی قوماندانی د پرمختیایی ادارو سره، کندز، د ۲۰۰۹ کال د نومبر ۱۹.

[23] د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون، د ۲۰۱۰ کال د جنوری ۳۱ مه.

[24] د آیساف ارزونه، ۲ یاددښت.

[25] د منازعی د بی ګناهو قربانیانو لپاره کمپاین، د خلکو د لاس ورکول، په افغانستان کی خلکو ته د زیان بیه او پایلی، ۲۰۰۹ فبروری، www.civicworldwide.org/afghan_report (accessed February 7, 2010).

[26] د منازعی د بی ګناهو قربانیانو لپاره کمپاین، د خلکو د لاس ورکول، په افغانستان کی خلکو ته د زیان بیه او پایلی، ۲۰۰۹ فبروری، www.civicworldwide.org/afghan_report (accessed February 7, 2010).

[27] مرکه، زرمت پکتیا، د ۲۰۰۹ کال د نومبر ۳ مه.

[28] ان کالی واس، په ملکی جګړو کی د خشونت دلیلونه، ۲۰۰۶. ""

[29] د بشر حقونو ناظر، "کانادا/افغانستان: د کانادا د مسوولیت څیرنه د زندانیانو د زورونی په اړوند،" مطبوعاتی اعلامیه، د ۲۰۰۹ کال د نومبر ۲۷. http://www.hrw.org/en/news/2009/11/27/canadaafghanistan-investigate-canadian-responsibility-detainee-abuse (accessed January 26, 2010). همدا شان وګوری، د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون، http://www.aihrc.org.af/english/Eng_pages/Researches_eng/Research_cause_of_Torture_2009_April.pdf (accessed February 1, 2010).

[30] د فلیپ الستون مطبوعاتی اعلامیه، د ملګرو ملتونو ځانګړی استازی په نا قانونه او خپل سری اعدامونو په چارو کی، کابل، د ۲۰۰۸ کال د می میاشتی ۱۵ مه،

[31] سوسانی شمیدل، الکساندر د مندت، او نیک میساک، د برستنی له څنډی: افغانستان په جنوب کی د کورنی بی ځایه شویو د لازیاتی ساتنی لپاره، ګډه څیړنه د بروکنس/بیرن د بی ځایه شویو پروژه او د اړیکو څانګه، واشنګتن د بروکنس انستیتیوت ۲۰۰۹، [وروسته ددی نه د " شمیدل، مندت، او میساک، د برستنی له څنډی" په نامه یادیږی.].

[32] سوسانی شمیدل، ۲۰۰۷، "د افغانستان څیړنه- ساتونکی څوک ساتی؟" شخصی امنیتی کمپنی او خلک. د ۲۰۰۷ کال نومبر،
http://www.swisspeace.ch/typo3/fileadmin/user_upload/pdf/PSC_01.pdf (accessed February 1, 2010) pgs. 14 - 45.

[33] یونما، افغانستان: کلنی رپوټ د ملکی خلکو ساتنه په منازعه کی،۲۰۰۹، د ۲۰۱۰ کال جنوری،
۲۰۰۹http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/human%20rights/Protection%20of%20Civilian%20
%20report%20English.pdf (accessed January 26, 2010), p 30.